# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد

همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com www.afgazad.com

| مسایل ایدولوژیک | Ideological |
|---|---|



ی. و. ستالین

ژباړه: فرهاد ویاړ


## د دیالکتیک ماتریالیزم او تاریخي ماتریالیزم په اړه

(دریمه برخه)

ټول شیان د وخت او د ځای له شرایطو سره تړاو لري.

ښکاره ده چې د دې شرایطو له پام نیولو پرته **د تاریخي پلوه** د ټولنیزو پدیدو مطالعه او د تاریخ د علم او د پرمختګ موجودیت ناممکنه دی، ځکه یوازې دا ډول مطالعه ده چې کولای شي په انارشیزم او احتمالاتو او ډیر شمیر نامقولو تیروتنو باندې د تاریخ د علم له بدلیدلو څخه مخنیوی وکړي.

همدا ډول که په ربښتیا نړۍ په همیشني حرکت او تکامل کې ده، که واقعاً د ورسته عناصرو نابودي او د نوي زیږیدونکو عنصرونو وده او پرمختګ د تکامل قانون دی، نو څرګندیږي چې نور نو د «نه ټکني کیدونکي» ټولنیز انتظامات او د خصوصي مالکیت او زبیناک «ابدي اصول» او د مالکانو څخه د دهقانانو او د پانګوالو څخه د کارګرانو د اطاعت «ابدي نظرونه» معقولیت نلري.

نو له دې سره دې پایلې ته رسیږو چې سوسیالیستي رژیم کولای شوو د پانګوال رژیم پر ځای واکمن کړو، څرنګه چې د فیوډالیزم رژیم هم په خپل وخت کې په پانګوااله رژیم بدل شو.

بالاخره دې نتیجې ته رسیږو چې نباید د خپل کار او فعالیت تمرکز د ټولني پر هغو طبقو وکړو چې نور د ودې او پرمختګ په حال کې نه دي، که څه هم دا وخت واکمن او پیاوړي وي؛ بلکې باید هغو ټولنیزو طبقو ته پام واړو او پرې ډیره ووهو چې د تکامل په حال کې دي او راتلونکی لري، که څه هم نن له پیاوړي ځواک څخه برخمني نه وي.

د تیرې پیړۍ په ۱۸۸۰ـ ۱۸۹۰ کلونو کې، په هغه پیر کې چې د مارکسیستانو مبارزه د ناردنکیانو په وړاندې دوام درلوده، د روسیي پرولتاریا د منفردو دهقانانو په وړاندې چې د ټولني ډیره برخه یې جوړوله، یو کوچنی اقلیت و، خو دا اقلیت د یوې طبقې په توګه د ودې او پرمختګ په حال کې وه، حال دا چې دهقانان د یوې طبقې په توګه، د شیندلو په حال کې وه. مارکسیستانو تیروتنه ونکړه چې خپل فعالیت یې یوازې پر پرولتاریا چې د پرمختګ په حال کې وو، متمرکز کړ، ځکه څنګه چې پوهیږو پرولتاریا چې په لومړیو کې یو کوچنی ځواک و، ورو ورو یې وده کوله، پرمختګ یې وکړ او په لومړني درجه سیاسي او تاریخي ځواک بدل شو.

نو د دې لپاره چې په سیاست کې تیروتنه ونکړو، ښایي مخې ته وګورو نه شا ته.

او که دا خبره سمه ده چې له تدریجي کمي بدلونونو څخه چټک او ناڅاپي کيفي بدلونونو ته اوښتل د تکامل له قوانينو څخه شميرل کيږي، نو څرګنده به شي چې انقلابي بدلونونه چې د زيارکښو پرګنو په لاس تر سره کيږي په بشپړه توګه يوه طبيعي پديده دی چې څوک يې مخه نشي نيولی.

نو له پانګوالی څخه سوسياليزم ته انتقال او د پانګوالی له ظلمونو څخه د کارګرې طبقې خلاصون، نه د پځو بدلونونو او سمونو له لارې، بلکې يوازې د پانګوالی رژيم د کيفي بدلون او د انقلاب له لاری تر سره کيږي.

نو د دې لپاره چې په سياست کې تيروتنه ونشي بايد انقلابي ووسو، نه اصلاح غوښتونکی.

او بيا که چيرې سمه وي چې تکامل د دننني تضادونو له امله او د متضادو ځواکونو د مبارزې په پايله کې پر دې تضادونو د غلبې لپاره له تضادونو رامنځته کيږي، نو بيا ښکاره ده چې د پرولتاريا طبقاتي مبارزه، په مکمله توګه يوه طبيعي او اړينه پديده ده.

نو، نه ښايي چې د پانګوالی رژيم پر تضادونو چونه وشيندو، بلکې د دې عکس، هغه بايد کشف کړو، بربنډ يې کړو، نبايد د طبقاتي مبارزې د غلي کولو په لټه کې شوو، بلکې هغه بايد تر پای پورې ورسوو.

نو د دې لپاره چې په سياست کې تيروتنه ونکړو، ښايي يو طبقاتي او پرولتاريايي او نه پخلا کيدونکی سياست تعقيب کړو. د اصلاح غوښتونکي سياست څخه چې مفهوم يې د پرولتاريا او پانګوالو د ګټو همغږي او يا د پانګوالي څخه د سوسياليزم د «زرغونيدو» لپاره جوړجاړی دی، ډډه وکړو.

دا د هغه څه مدلول دي چې مارکسيستی ديالکتيک متد يې د ټولنيز ژوند او د ټولنې د تاريخ سره د تطبيق پر مهال ښکاره کوي.

خو مارکسيستي فلسفي ماترياليزم د فلسفي ايده اليزم سره له بنسټ او بنياد څخه په تضاد کې دی.

**۲- مارکسيستي فلسفي ماترياليزم لاندې ځانګړنې لري:**

الف.) د ايده اليزم په خلاف چې نړی د «مطلقي ايدې»، «د يو کلي روح» او د «شعور» د تجسم په بڼه ګوري، د مارکس مادي فلسفه باور لري چې دنيا بالذاته مادي ده او د نړی بيلابيلي پديدې، د متحرکي مادې بيلابيلي بڼې دي او د پديدو متقابله شرايط او اړيکې چې پر ديالکتيکي اصولو ولاړ دي، د متحرکي مادې د تکامل لازمه قوانين جوړوي او دنيا د مادې د حرکت د قوانينو پر بنسټ د ودې او تکامل لاره وهي او کوم «کلي روح» ته اړتيا نلري.

انګلس وايي:

« ماترياليستي نړی ليد په ساده ډول عبارت دی د طبيعت پيژندلو څخه څرنګه چې طبيعت موجود، بې له دې چې له بهر څخه کوم څه وربانديې ورزيات شي.» (ک. مارکس او ف. انګلس، ۱۴ ټوک، ۶۵۱ مخ).

لنين (د فلسفي يادداشتونو په ۳۱۸ مخ، روسي چاپ کې) د لرغوني يونان فيلسوف، هراکليوس وينا ته چې باور يې درلود: «دنيا يوه ده او د هيڅ خدای يا انسان لخوا پيدا شوی نه ده او هميشنی او ژوندې لمبه وه، ده او وي به چې رڼا يې د ټاکلو قوانينو له مخې کله ځليږي او کله هم مړه کيږي» اشاره کوي او وايي «دا د ديالکتيکي ماترياليزم د اصولو سمه او غوره تشريح ده.»

ب.) د ايده اليزم د اصولو په خلاف چې ادعا لري يوازې دا زموږ شعور دی چې وجود لري او مادي دنيا او د ژوندانه نړی او طبيعت زموږ د شعور او حواسو او تصوراتو او عقايدو غبرګون دی؛ د مارکس فلسفي ماترياليزم نظريه دا ده چې ماده، طبيعت او وجود يو عيني (ابژکتيف) حقيقت دی چې زموږ له ذهن او شعور څخه بهر په خپلواکه توګه موجود دي. ماده لومړی ځای لري، ځکه چې دا ماده ده چې زموږ د احساساتو او تصوراتو او د شعور

سرچينه ده، په داسي حال کي چي شعور دويم ځای لري ځکه چي شعور په خپله د مادي انعکاس دی، د وجود انعکاس دی. فکر، د مغزو _ چي په خپله يوه ماده ده _ هغه محصول دی چي په خپل تکاملي بهير کي بشپړتيا ته رسيدلی دی. په بله وينا فکر د مغزو محصول دی او ماغزه د تفکر جهاز او بالنتيجه که و نه غواړو لويه تيروتنه وکړو نو نبايد فکر له مادي بيل کړو.

انګلس وايي:

«د فکر او وجود او د اروا او طبيعت تر منځ اړيکه د ټولي فلسفي اصلي او لويه مسئله ده... دی مسئلي ته ځواب ورکونه فلاسفه په دوه لويو پنډغالو ويشي: هغه کسان چي فکر او اروا پر طبيعت او وجود لومړي ګني... په ايده اليستي پنډغالي او هغه کسان چي طبيعت لومړی ګني، د بيلابيلو ماترياليستي مکتبونو سره تړاو لري.» (ک. مارکس، د آثارو غورچاڼ، لومړی ټوک، ۳۲۹ مخ).

او:

«مادي نړی چي په حواسو سره پيژندل کيږي او موږ په خپله هم د هغي سره تړاو لرو، يوازيني واقعي نړی ده... زموږ شعور او تفکر که هرڅومره هم عالي وي د مغزو له محصول پرته چي يو مادي جوړښت او جسم دی، محصول پرته بل څه نه دي. ماده د روح مولود نه ده، بلکي دا روح دی چي د مادی له عالي محصول پرته بل څه نه دی» ( هماغه کتاب، ۳۳۲ مخ).

مارکس د مادي او فکر په اړه وايي:

«ممکنه نه بريښي چي تفکر وکړای شو له متفکري مادي څخه جلا کړو. ماده د ټولو هغو تغييراتو بنسټ دی چي رامنځته کيږي» (هماغه کتاب، ۳۰۲ مخ).

لنين د مارکس فلسفي ماترياليزم په اړه وايي:

«ماترياليزم په ټوليزه باورمن دی چي واقعي او عيني ژوندون (ماده) له شعور او احساساتو او تجربي څخه خپلواکه دی... شعور... د ژوندون له انعکاس پرته بل څه نه دي چي په خپلي ښې بنې کي د هغي تقريباً سم ( بشپړ او په نهايي درجه دقيق) انعکاس دی» (لنين، ۱۳ ټوک، ۲۶۶ ـ ۲۶۷ مخ).

او بيا وايي:

«ماده هغه شئی دی چي زموږ د حواسو پر جوړښت اغيزه کوي او احساس رامنځته کوي؛ ماده يو عيني حقيقت دی چي بهرنی وجود لري او موږ هغه د احساس سره پيژنو... ماده، طبيعت، وجود او جسم لومړی مقام؛ خو روح او شعور، احساس او نفسانيت دويم مقام لري.» (هماغه کتاب، ۱۱۹ـ ۱۲۰ مخ).

ـ «نړی د مادي او «د مادي د تفکر» د حرکت د ځرګنوالي د ننداري ډګر دی» (هماغه کتاب، ۲۸۸ مخ).

ـ «ماغزه د تفکر دستګاه ده» (هماغه کتاب، ۱۲۵ مخ).